صداهای زنان برای صلح همه‌شمول و پایدار
د ټول‌شموله او تلپاتي سولې لپاره د ښځو غږونه
Women's Voices for an Inclusive and Sustainable Peace

د ښځو د سولې لنډیز
د مهمو اړتیاوو او بشري مرستو په اړه د افغان ښځو نظرونه

د ۲۰۲۲ کال د مې میاشتې خپرونه

لنډیز:

- د هرات، بلخ، کندهار، دایکندي، جوزجان، فراه، فاریاب او بغلان ولایتونو له ۵۳۵ ښځو څخه د دوی د ژوند د وضعیت او بشري مرستو ته د اړتیا په اړه نظرپوښتنې ترسره شوې دي.

- د سروې ځواب ویونکو (۵۸٪) ځواب ورکړی چې د دوی د کورنۍ اقتصادي وضعیت په تیرو اتو میاشتو کې ډیر خراب شوی، او(۲۹٪) نورو ویلي چې وضعیت یې "یو څه خراب شوی". یوازې شاوخوا(۳٪) ځواب ویونکو د هر ډول پرمختګ ادعا کړې.

- ځواب ویونکو وزګارتیا (۳۲٪) یا د ښځو پر حقونو محدودیتونه (۲۷٪) په ګوته کړل ځکه چې دا دوه ستونزې د دوی په سیمو کې ښځې ډیرې اندیښمنې کړې وې. دا ستونزې په ټولیز ډول په ولایتونو کې ریښتیا وې، ځینو ښځو د ښوونځیو ترل او امنیتي وضعیت په اړه تر ډیرې کچې (لکه د بلخ ولایت مثال) او ځینو ښځوپه ټیټه کچه (لکه په فاریاب کې، چې وزګارتیا او د ښځو پرحقونو محدودیتونه خورا مهمې اندیښنې وې) ټینګار کولو.


- ځواب ورکوونکو وویل چې "ځینې میرمنې" په خپلو سیمو کې د نړیوالو بشردوستانه مرستو څخه ګټه پورته کوي خو(۳۱٪) ځواب ورکړ "هیڅ (۵۵٪) ښځې" او یوازې(۱٪) ځواب ورکړ "ټولې ښځې.

- د ځواب ویونکو ډیر شمیر (۷۲٪) ځواب ورکړ چې خواړه د دوی په ټولنو کې ترټولو مهم بشري اړتیا ده.

لومړی پوښتنه: په تېرو ۸ میاشتو کې مو د کورنۍ اقتصاد تر کوم حده تغیر موندلئ؟




دوهمه پوښتنه: ستاسې په سیمه کې ښځې د کومو موضوعاتو په اړه ډیرې اندیښمنې دي؟



دریمه پوښتنه: په تېرو ۸ مياشتو کې، ستاسې په سيمه کې ښځو له بشري مرستو څخه ګټه اخيستې ده؟



خلورمه پوښتنه: ستاسې په سيمه کې ښځې کوم ډول بشري مرستو ته اړتيا لري؟



روش :

واوره يو ډيجيټلي نوښت دی چې د افغانستان په ۱۷ ولايتونو کې فعاليت کوي. دا پروژه د ډيجيټل ټولپوښتنو وسيلې او ټولنيز بنسټ چلند سره يوځای کوي ترڅو په 'ريښتيني وخت' کې په سيمه ايزه کچه د افغانستان د ښځو تجربې او نظرونه تراسه کړي. دا روش/طريقه د افغانستان شرايط په پام کې نيسي او د دې لپاره ډيزاين شوی چې په افغانستان کې د دوديزو څيړنو په پرتله، ښځې له بېلابېلو برخو څخه په څيړنه کې برخه واخلي. هغه ښځې چې نشي کولی سفر وکړي يا د تګ راتګ له محدوديتونو سره مخ وي، د ټولنې د نظرياتو له پروسې څخه پاتې کيږي. د پايلې په توګه، د دوی تجربې اکثرا د پاليسۍ په بحثونو کې په پام کې نه نيول کيږي. واوره درې څيړنيزې وسيلې کاروي: د ټيلی ټولپوښتنې سيستم، مخامخ لنډې ټولپوښتنې او د متمرکز بحث ګروپونه. د واوره ډيجيټل څيړنې وسيلې د زياتمنو او له له پروسې څخه لرې ښځو برخه اخيستنې د اسانه کولو لپاره رامينځته شوې او د ښځو غږونه د پاليسۍ جوړولو پروسو ته رسوي. د راټولو شويو معلوماتو څخه موندنې، په وخت، سيستماتيکې او معياري ډول رسمي شريکانو او عامو خلکو ته د دې لپاره چمتو کيږي ترڅو ډاډ تراسه شي چې د ميرمنو نظرونه وکولای شي په نړيوالو پاليسيو او پريکړو کې په پام کې ونيول شي.

د واوره په اړه :

په ۲۰۲۰ کې د پاليسۍ څيړنې او پراختيايي مطالعاتو بنسټ لخوا په افغانستان کې رامينځته شوی، واوره/بشنو يو ډيجيټل جوړښت دی چې په ريښتيني وخت کې او د بېلابېلو مسئلو په اړه د ښځو نظرياتو راټولوي. لکه څنګه چې له نوم څخه يې ښکاري، واوره په پښتو کې 'اوريدل' ته وايي، او له دې موخې سره رامينځته شوی چې ډاډ تراسه کړي چې د افغان ښځو د "اوريدلو" پروسې ته د يو اړخيزې پېښې په توګه نه بلکه په افغانستان کې د سولې، امنيت او پرمختګ په اړه د ټولو ملي او نړيوالو بحثونو د بشپړې او پرلپسې برخې په توګه وکتل شي .